# د امن کمېټۍ اجلاس

پښتون رپورټر

په ۱۶ اګست د ډمبر ابسوسي ایشن په دفتر درګی کښي "د امن کمېټۍ" یو اجلاس د مشر امیراعظم خان کاکا په صدارت کښي وشو چې مشر مېلمه پکښي د ملاکنډ ډي سي او صاحب ؤ.

د اجلاس پرانسته د تلاوت قرآن پاک د څو آیتونو په لوستو وشوه. مکرم خان په خپلو خبرو کښي د امن کمېټۍ په اغراض و مقاصد او د سم رانیزي خلقو ته د سوات، دیر او بونیر د متاثرینو سره په راپېښو مسئلو او د څو میاشتو په مسلسل ډول د کرفیو په لګېدو او خلقو ته د تکلیف په حواله په تفصیل سره خبرې وکړې، هغۀ په خپلو خبرو کښي ووې چې د افسوس خبره ده چې د سوات، دیر او بونیر خلقو له خلقو په خپلو کورونو حجرو او بېټکونو او سکولونو کښي د اوسېدو دپاره نۀ یواځې ځایونه ورکړۀ، بلکې د حکومتي او نورو ادارو د نۀ رارسېدو باوجود خلقو د هغوي د خدمت نه علاوه د هغوي سره د خُلې نمرې هم نېمه کړه، په خپله د کرفیو په وجه ټول په ټوله مزدورکار خلق بې روزګاره شو، د بازارونو بندېدو په وجه د هر څیز قیمت یو په دوه شو، خو بیا هم کۀ مرکزي حکومت ؤ او کۀ صوبائي دغه علاقې ئې متاثره علاقې ونۀ ګرځولې او هغوي ته ئې په یوټیلیټي بلونو کښي هم د مراعاتو ورکولو د اعلانونو نه څنډه وکړه.

ډاکټر خالق زیار په دغسې حالاتو جوړېدو خلقو ته په ډېرو تاریخي حوالو خبرې وکړې او وې وئیل چې کۀ مونږ په وخت د امن دپاره او د خپلو راتلونکو نسلونو دپاره د بېدارۍ مظاهره ونۀ کړه نو لرې نۀ ده چې مونږ ته هم کډې را په سر شي. ډاکټر صېب ووې چې مونږ له په ځان تجربې نۀ دي کول پکار. باید چې مونږ د دې قسمه تېرو شوو حالاتو او واقعاتو نه سبق واخلو او د خپل کلچر په رڼا کښي هغه لارې خپلې کړو په کومو چې مونږ شعور حاصلولے شو. ځکه چې نننۍ دنیا د ذهن او قلم د استعمال دنیا ده او په دې دنیا کښي د عزت ژوند تېرول زمونږ او زمونږ د بچو حق دے. زمونږ د سکولونو، کالجونو ورانول بله هېڅ معنٰي نۀ لري سېوا د دې نه چې مونږ دې د ننني ژوند ژواک او نننۍ دنیا شعور حاصل نۀ کړو.

په اجلاس کښي د خان ګړۍ نمائنده، د سخاکوټ نمائنده، دګړي عثمانخېلو نمائنده ګانو، د اریان کوټ او هېروشاه نمائنده ګانو د ورتېر او دوبندۍ، قدم خېلې، سورنې، وزیر اباد، موسٰی مېنې، شریف اباد، کوپرونو، مهردي، خرکے، درګۍ او قالدرې نمائندګانو په خپلو خبرو کښي د متاثرینو د راتلو سره د دې خلقو په متاثره کېدو رڼا واچوله. ټولو د دغو مېلمنو په خدمت د دې ځائے د پښتنو شکریه ادا کړه او چې د دغو متاثرینو او مسلسل کرفیو لګېدو سره کوم مقامي خلق د بې روزګارۍ ښکار شوي دي، هغه په پوره ډول په متاثرینو کښي راوستل د مرکزي او صوبائي حکومت فرض جوړېږي. دغو کسانو په خپلو وېناګانو کښي ووې چې دا ډېره د افسوس خبره ده چې نورو علاقو ته کۀ متاثرین تللي دي او چا ئې

خدمت کړې دې نو مونږ ورته شاباشې وايو، ځکه چې هغوي د پښتنې روايا تو قدرداني کړې ده. خو هلته خو د يوې ورځې د پاره کرفيو نۀ ده لګېدلې، د هغوي خلقو خو روزګارونه هم جاري ساتلي وو، د کرفيو ښکار شوې علاقه خو د تانې نه د شېرګړ د بورډ پورې ټوله ايجنسي په مسلسل ډول د سحر نه د مازيګر يا ماښام پورې پاتې شوې ده. نو په اصل کښې متاثرين خو د ايجنسۍ خلق دي، ښۀ به وي چې کۀ دغه خلق مرکزي او صوبائي حکومتونه په متاثرينو کښې شمار کړي او د دغې علاقې مزدور کارو خلقو ته او بې روزګاره شوو خلقو ته د نور امداد سره سره په يوټيليټي بلونو کښې مدد ورکړي نو د هغوي د ژوند ګاډې به څۀ نه څۀ روان پاتې شي.

د ټمبراېسوسي ايشن صدر حاجي وکيل صاحب ووې چې دا ډېره د افسوس خبره ده چې دلته د هرې مسئلې ذکر وکړې شو، خو هېچا هم د دې ځائې د ټمبر مارکيټ په حواله هېڅ خبره و نۀ کړه. دلته به په دې مارکيټ کښې په زرګونو مزدورانو کار کوو، په سوونو ټرکونه به په روزګار وو، دلته به زمونږ سره دوکانداران چاپړې فروش خلق په روزګار وو، د څو کالونه د دې مارکيټ نه يوه مقبره جوړه شوې ده، زمونږ لکونه روپۍ په لرګو کښې بندې دي، مونږ ته لارې بندې دي او زمونږ په زرګونو لېبر او په سوونو ډرائيوران او ټرکونه بند ولاړ دي چې هم دا مارکيټ د دې علاقې د معيشت د پاره د ملا د تېر کار ورکوي هغه کاروبار په ټپه ولاړ دې، د کرفيو د لاسه نۀ دلته خريدار راځي او نۀ مونږ اخستې لرګې دلته راوړې شو. بايد چې صوبائي حکومت د دې مسئلې د حل کولو د پاره مونږ ته موقع راکړي چې مونږ په دې د بحث نه پس د دې څۀ حل راوباسو، ځکه چې دلته کومه بله داسې ذريعه د روزګار نشته او نۀ څۀ کارخانې شته.

په اخره کښې د ملاکنډ ډي سي او صاحب د خلقو او د سم رانيزي د هر کلي د نمائندګانو او د امن کمېټۍ د غړيو شکريه ادا کړه چې هغه ته ئې د امن کمېټۍ په دې غونډه کښې د مشر مېلمه په حېث د رابللو اعزاز وروبخښلو. ډي سي او صاحب ووې چې زۀ اوس اوس دلته راغلې يم، د دې ايجنسۍ خلق ډېر ساده او سپېڅلي پښتانۀ دي. زۀ به غواړم چې مونږ په شريکه د دې علاقې د خلقو خدمت وکړو، هغه ووې چې زما په وس کښې دا دي چې زۀ به خپلې دروازې هر وخت ستاسو د خدمت د پاره خلاصې ساتم، دلته لوئې مسئلې د تخريب کارۍ سره سره د خلکو د تښتولو او د هغوي نه د پېسو اخستو دي. کومه بې روزګاري چې دلته پېدا شوې ده، کوم خلق چې متاثر شوي دي، د هغوي د پاره به او د امن د پاره به په شريکه کار کوو، کۀ زۀ چرته خطا کېدم نو ماته مخامخ خپله کوتاهي په ګوته کولې شئ.

زۀ په هفته دوه ورځې د سم رانيزي خلقو ته ورکولې شم، کۀ ما دلته راغواړئ او کۀ کومه کمېټۍ جوړوئ چې ستاسو نمائندګان هلته په هغه کښې دوه ورځې راځي چې مونږ په وخت وخت سره په رابطه کښې يو او چې څومره پېښې مسئلې دي چې په څۀ کښې کمې کولې شو، هغه وکړو او چې کومې ختمولې شو چې هغه ختمې کړو. دا فرض به ان شاءالله په شريکه پوره کوو او دغسې د امن کمېټۍ دغه اجلاس سرته ورسېدو. ▪